# د ۹۵ سلنه مالیاتي جریمو د معافیت له امله د سوداګرۍ خونې هرکلی

**نېټه:** دوشنبه، د ۱۳۹۶ کال د سلواغې د میاشتې ۱۶مه، ۱۰:۰۰ بجې سهار
**ځای:** د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه، حضوري چمن، کابل

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه د (د ۹۵ سلنه مالیاتي جریمو د معافیت له امله د افغانستان د سوداګرۍ خونې هرکلې) تر عنوان لاندې مطبوعاتي کنفرانس د یادې خونې د مشرتابه پلاوي د غړو، ګڼ شمېر سوداګرو، صنعتکارانو او د هېواد د خصوصي سکتور غړو او کورنېو او نړېوالو رسنېو په ګډون د ۱۳۹۶ کال د سلواغې د میاشتې په ۱۶مه نېټه د سهار په ۱۰ بجو د سوداګرۍ خونې د کانفرانسونو په تالار کې تر سره کړ.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې په وړاندیز د مالیې محترم وزارت د ۱۳۹۷ کال د ملي بودیجې په نوي اصولنامه کې د مالیاتي جریمو معافیت تصویب کړ. دغه موضوع د مالیې د محترم وزارت د ۱۳۹۶ کال د سلواغې د میاشتې د ۸ مې نېټې په هغه مطبوعاتي کنفرانس کې چې په هغې کې د مالیې او سوداګرۍ او صنایعو وزیرانو، د سوداګرۍ او صنایعو خونې د مشرتابه پلاوي لومړي مرستیال او د خونې د مشرتابه پلاوي غړو، د افغانستان د برشنا شرکت لوي رئیس او دغه راز د هېواد د خصوصي سکتور ګڼ شمېر غړو ګډون درلود، اعلان کړ.



Afghanistan Chamber of Commerce & Industries | Cell: 0786384859| E-mail: pr.director@acci.org.af | Website: www.acci.org.af